هر نا اهل مزه څه زده د خبرو
د خبرو لذت ښه دی تر شکرو

چی دانا یی په دانش سره انشاء کا
یوه ښه خبره بهه ده تر زرو

بی استاده شاعری بی لاری تله دی
یاوه ګوی ګرځي په لوړو په ژورو

تفاوت د خاص او عامو سره ډیر دی
برابر نه دی شِبه د مرغلرو

د شهباز او د عنقا برابر نه دی
مچ او ماشی چی الوزی په وزرو

په چارم اسمان به ناست لکه عیسی وم
که آسمان ته الواته شوای په خبرو

عام به چیرې د خوشحال په ویل پوه شي
د ګوهرو قدر څه زده ښیښه ګرو؟

زه د خوشحال خان غزلیات د هغه د ادبی پیاوړیتوب او د دده د رنګارنګو مضمونونو په درناوی دلته نشروم. کیدای شی چی دخوشحال بابا په شعرونو کی لکه په ټولوکلاسیکی آثارو کی داسی بیتونه وی چی اوسنی لوستونوکو ته عجیب ښکاره شی. زه په دی عقیده یم چی هر اثر باید سړی د هغه د وخت او زمان او تاریخی ما حول په نظر کی نیولو سره ولولی . دا به ډیره غلطه وی چی مونږ د نن ورځی د ارزښتونو او معیارونو نه د پخوانو آثارو د قضاوت د پاره کار واخلو. د مثال په توګه د ښځو په هکله زمونږ متقدمین د بیدل او فردوسی په شمول داسی نظریات لری چی اوس یی مونږ منلای نه شو خو مونز نشو کولای چی د بیدل یا فردوسی شعرونه سانسور کو یا وی نه لولو. د رکیکو الفاظو نمونی هم د خوشحال بابا او داسی نورو شاعرانو لکه مولانا په ځینو غزلیاتو کی لیدل کیږي. زما په نظر حتی داسی شعرونه دی هم سانسور نه شی او قضاوت دی لوستونکو ته پریښودل شی.